سلام خان

# د پارلمانی ټاکنو په باب د ولسمشر حکم ګونګ او پیچلی دی

ولسمشر حامد کرزي د ۱۳۸۹ کال د پارلماني ټاکنو د اختلافونو د حل په موخه د تيری چهار شنبی په ورځ يو حکم صادر کړی دی، چې له مخې به يې د ټاکنو خپلواک کميسيون موظف وي، ژر تر ژره د موضوع حقوقي برخې دهيواد د اساسي قانون او د ټاکنو د قانون په رڼا کې عملي کړي. د ولسمشرۍ مانی له لوري په خپره شوې بيانيه کې راغلي، چې د ټاکنيزو کړکيچونو په اړه د ځانګړی محکمې فيصله هم د منلو وړ ده. يو شمير سياسي کارپوهان د ځانګړې محکمې او ولسي جرګې ترمنځ د تاوتريخوالي پايته رسولو پربنسټ د ولسمشرۍ مانی اعلاميه جنجال پارونکي او مبهمه بولي. دغه کارپوهان ټينګار کوي، چې يادې اعلامې اوسنی تاوتريخوالی نه يوازې کم کړی نه دی، بلکې نور هم يې زيات کړی. دوی وايي، چې ولسمشر بايد د ټاکنو د خپلواک کميسيون او ځانګړې محکمې ترمنځ يو لوری مشروع اعلان کړي. په داسي حال ده، چې د ولسي جرګې غړي وايي ولسمشر کرزي د ټاکنو کميسيون ته دنده ورکړې، چې د ټاکنو په اړه د ځانګړي محکمې پرېکړه دې عملي کړي، د سياسي چارو شنوونکي په دې باور دي، چې د ولسمشرۍ مانی له لوري خپره شوې بيانيه ګونګه او پيچلي ده. د دوی په وينا ولسمشر بايد د ځانګړی محکمی او د ټاکنود خپلواک کميسيون ترمنځ يوه ته مشروعيت ورکړي. دغه شنوونکي زياتوي، چې د پارلمان او ځانګړې محمکمې ترمنځ روانه کړکيچ هم دوام لري او دا ډول ګونګې او پيچلې بيانيې خپرېدل به د پارلمان او حکومت ترمنځ يوه بله ستونزه هم رامنځته کړي. کارپوهان وايي، چې کرزی له لوې خوا د ټاکنو ځانګړې محکمه مهمه ګڼي او له بلې خوا د ټاکنو د خپلواک کميسيون پر دندو او صلاحيتونو ټينګار کوي:

د انتخاباتو د خپلواک کميسون مشر فضل احمد معنوي وايي د شنبې له ورځې به د انتخاباتي لانجې په اړه د ولسمشر پر فرمان غور وکړي او هڅه به وکړي چې يوه داسې د حل لار پيدا کړي چې دواړو خواوو ته د منلو وړ وي، معنوي دا څرګندوني په داسي حال کې کړې دی چې ځيني سرچيني وايي د حکومت او د انتخاباتو د خپلواک کميسون ترمنځ معامله شوې چې له ۶۲ تنو څخه، چې اختصاصي محکمې په درغلۍ تورن کړي او د دې محکمې له پرېکړې سره سم بايد له ولسي جرګې وايستل شي، ښايي نيمايي په خپل حال په ولسي جرګه کې پرېښوول شي او د نيمايي نورو پرځای نوي کسان جرګې ته ورمعرفي شي، ده په عين حال کې ټينګار وکړ چې فيصله به يې له قانون سره سمه وي او داسي لارې چارې به ولټوي چې د دواړو خواوو قناعت حاصل کړي.

معنوي چې د انتخاباتي جنجال له رامنځته کيدو وروسته د انتخاباتو په نتيجه کې هرراز بدلون محال بللی و، وويل چې لا هم د انتخاباتي شکايتونو کيسون شته او ترڅو چې دا کميسون وي د انتخاباتو پر نتيجو غور له دې سره سره ممکن دی چې د انتخاباتو د پايلو پر اعلان ډېر وخت وتلی دی ،د انتخاباتو د خپلواک کميسون مشر يو واربيا اختصاصي محکمه غيرقانوني بللی ده او ويلی دی که دا محکمه په قانوني ډول جوړه شوې وای جنجال به يوولس مياشتې دوام نه کاوه.

ګارډين ورځپانه د ولسمشر کرزي د فرمان په اړه څرګندوي، چې په دې کې هم د انتخاباتو د درغليو د څيړلو د ځانګړې محکمې د پريکړوملاتړ شوی دی او هم د دې محکمې پريکړې ته په ټيټه سترګه کتل شوي دي.

اختصاصي محکمه حکم کوي، چې د ولسي جرګې دوه شپيته وکيلان دې لرې شي او د هغوي پر ځای دې دوه شپيته نور معترض کانديدان د ولسي جرګې غړي شي، د ګارډين ورځپانې په وينا د ولسي جرګې يو شمير هغه غړي، چې د اختصاصي محکمې له حکم سره بايد لرې شي، وايي، ولسمشر له دې فرمان سره د انتخاباتو پر خپلواک کميسيون فشار راوستی دی، څو د اختصاصي محکمې حکم تطبيق کړي.

خو بل لور ته د انتخاباتو خپلواک کميسيون وايي، چې هيڅ ډول فشار نه دی پرې راغلی، د دې کميسيون مشر فضل احمد معنوي ازادۍ راډيو ته وويل، چې دوي هڅه کوي چې دا ستونزه له قانوني لارې هواره کړي ولسمشر له موږ څخه داسې غوښتنه نه ده کړې او فکر کوم چې يو شمير کسان سم نه دي پوه شوي، خو زه داډ درکوم چې د انديښنې وړ څه نه شته، ځکه چې د افغانستان د خلکو د لوړ و مصلحتونو لپاره دا شخړې نورې د دوي په ګټه نه دي او په يو ډول يې د افغانستان کارونه شاته غورځولي دي، خو هڅه کوم چې له قانوني لارې دا ستونزه ختمه کړم، د انتخاباتو خپلواک کمسيون له قانون سره سم دا صلاحيت لري، چې د انتخاباتو نتيجې اعلان کړي، خو د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي استاد پوهاند وديرساپی وايي، چې د استيناف محکمې پريکړه بايد تطبيق شي، د استيناف محکمې پريکړه نه څوک بدلولی شي نه په کې تعديل راوستلی شي او بايد ويې مني، بل لور ته د نړيوال کړکيچ د ډلې اخيستنه بل رنګ ده، د دې ډلې يوه څېړونکي خبرداری ورکړ، چې ولسمشر کرزی له سياسي پلوه ډېر کمزوری شوی دی، نو ان ښايي د افغانستان ولسي جرګه هم د دې فرمان له منلو ډډه وکړي، دغهٔ څېرونکي ګارډين ورځپانې ته وويل، چې اوس له


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیرلو مخکي په ځير و لولئ

ولسمشر کرزي سره پيسې هم ډيرې نه شته څو د ولسي جرګې غړيو ته رشوت ورکړي او هغوي په دې ډول د خپل فرمان منلو ته اړباسي.
د ولسي جرګې د تيري ورځي په عمومي غونډه کي ځينو وکيلانو وويل، چي ولسمشر کرزي د ټاکنو د کميسيون پر رئيس فشار راوړی، تر څو د ځانګړي محکمې پريکړه پلې کړي، سره له دې چي د ټاکنو خپلواک کميسيون تردې وړاندي ويلي ول، چي د ۱۳۸۹ لمريز کال د ولسي جرګې د ټاکنو په اړوند يي دنده بشپړه سوې او په دې برخه کي يي د ځانګړي محکمې پريکړي او فعاليتونه ناقانونه بلل خو اوس يي د ولسمشر له وروستي فرمان څخه هرکلی کړی او ويلي يي دي چي په راتلونکي اونۍ کي به خپله وروستي پريکړه اعلان کړي، د ولسي جرګې يو شمير وکيلانو د پنجشنبې په ورځ خبرداری ورکړ، چي که د ولسمشر د وروستي فرمان پر بنسټ د ۱۳۸۹ لمريز کال د ولسي جرګې د ټاکنو په پايلو کي بدلون راسي دوی به تردي هم په پراخو اعتراضونو لاس پوري کړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ